# درد

دويمه شعري ټولګه

جمال ناصر اصولي

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library






# درد

**دويمه شعري ټولګه**


شاعر: **جمال ناصر اصولي**

چاپکال: **۱۳۹۸ل/ ۲۰۲۰ز**

خپرندوی: **جمال ناصر اصولي**

چاپشمېر: **۲۰۰۰ ټوکه**

ډیزاین: **هدایت الله ناصري**

چاپځی: **اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۸۸۰۴۲۸۲۱**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نيوليک


ځو خبرې ........ ۶
ژوند ........ ۹
ميـين ........ ۱۱
درد ........ ۱۲
ما او تا مينه کړې ........ ۱۳
ژاړي ........ ۱۵
خوب ........ ۱۶
ګډې وډې ........ ۱۷
ځنګه ومنم چې نه يې؟ ........ ۱۸
درد ........ ۲۲
انسان ........ ۲۳
توبه ........ ۲۵
ګډې وډې ........ ۲۷
غزل ........ ۲۸
قاضي ........ ۲۹
تورکی ........ ۳۰
ژوند ماسره مينه کوله ........ ۳۱
لوبه ........ ۳۳
لويه خدايه ........ ۳٤
دنيا ........ ۳۷
لويي ........ ۳۸
غزل ........ ۳۹
ګډې وډې ........ ٤۰
پښتونه ........ ٤۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



دار ........................................ ٤٣
کافر ........................................ ٤٤
ګډې وډې ........................................ ٤٥
خبرې ........................................ ٤٦
وجدان ........................................ ٤٧
ګډې وډې ........................................ ٤٨
ګډې وډې ........................................ ٤٩
کمزوري ........................................ ٥٠
انګېزه ........................................ ٥١
ناځي ........................................ ٥٢
غزل ........................................ ٥٣
غليم ........................................ ٥٤
پښتانه ........................................ ٥٥
دنيا ........................................ ٥٦
ناوکۍ ........................................ ٥٧
نارواوې ........................................ ٥٨
غزل ........................................ ٥٩
ګډې وډې ........................................ ٦٠
د نن شاعران ........................................ ٦١
افغان ........................................ ٦٥
سوی ........................................ ٦٦
خپل نه منو ........................................ ٦٧
ګډې وډې ........................................ ٦٨
غزلګوټی ........................................ ٧٠
کتاب ........................................ ٧١
ګډې وډې ........................................ ٧٢
مينه ........................................ ٧٣
مانا ........................................ ٧٤

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګډې وډې ........ ۷۵
بې وفا ........ ۷۶
روژه ........ ۷۷
ګډې وډې ........ ۷۸
غزل ........ ۷۹
لار ........ ۸۰
غزل ........ ۸۱
غزل ګوټی ........ ۸۲
ګډې وډې ........ ۸۳
یوالی ........ ۸٤
ګډې وډې ........ ۸۵
هسې یو چا ته! ........ ۸٦
د رڼا مورکۍ تیاره شوه ........ ۸۷
د پنجوایي د شهیدانو په ویر کې ........ ۸۹
صحرا ........ ۹۰
غزل ........ ۹۲
غزل ........ ۹٤
غزل ........ ۹٦
ادماما ........ ۹۹
زمانه ........ ۱۰۰
ژوند ........ ۱۰۳
لنډ ژوندلیک ........ ۱۰٤

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څو خبرې

## د لوی او بخښونکي څښتن (ج) په نامه

هېڅ یوه خبره بې انګېزې له خولې نه وځي. د هرې خبرې بنسټ د یوه هدف له پاره جوړیږي او تر ژبو رارسیږي. همدا ده چې ژبه د پوهولو او راپوهولو له پاره کاروو تر څو د ژوندانه له پاره لاره پرې پیدا کړو. الله(ج) په سورت الروم ۲۲ آیت کې فرمایي:

ژباړه:او د هغه له نښانو څخه د آسمانونو او ځمکې پیدایښت او ستاسې د ژبو او رنګونو بېلابېلوالی دی. په باوري ډول په دې کې د پوهانو له پاره ډېرې نښانې دي.

لوی رب ج انسانان په قومونو، رنګونو او ژبو ویشلي دي تر څو یې د یو بل سره توپیر وشي. هدف دادی، چې د نړۍ هره ژبه د قدر وړ ده، باید چې د حاکمو له خوا کار ورته وشي. او د ژبې اړوندو ویونکو باندې حق لري چې وایې ورې، ویې لولي او ویې لیکي، ترڅو یې حق آدا شوی وي.

په افغانستان کې حاکمانو خو پښتو ته تر ډېره بریده شا اړولې ده. پښتو یې له کلیو څخه کله هم ښار او دفتر ته نه راکوزه کړې ده او نه یې سر پرې ګرولی دی. په دې برخه کې خپله پښتانه ګرم دي. دوی خپلې ژبې سره په شعوري او غیرې شعوري ډول بد چلند کړی دی. ډېری پښتانه چې قدرت ته رسیدلي دي، په پښتو یې دفتري کار نه دی کړی. خپله مورنۍ او پلارنۍ ژبه یې هېره کړې او نورو ژبو ته یې مخ کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاعر وايي:

پردۍ ژبې زده کول که لوی کمال دی
خـــــــــپله ژبه هېرول بې کمالي ده

سليمان لايق صيب فرمايي:

د پښتون ورمېږ په خپله توره غوځ دی
بېهـــوده د خون تورونه په بل بل ږدم

همدا پښتانه وو، چې په هند يې څلور پينځه پېړۍ حکمراني کړې ده، خو د پښتو له پاره يې هلته د يوه څاڅکي په څېر هم کار نه دی کړی. دوی وو، چې په هند کې يې درباري او رسمي ژبه د ايران فارسي وګرځوله او خپله ژبه يې له پامه غورځولې وه.

هند لا څه چې شپږ اووه پېړۍ وروسته د پښتنو په خپل ټاټوبي افغانستان کې هم د خپلې ژبې سره بې باکه او شرمور چلند کوي. پښتو نه لولي، نه يي ليکي او نه هم ارزښت ورته لري.

ښه، ويلی شو چې پړه پر موږ کې ده. کله هم زموږ د ژبې د غوړېدا له پاره نور نه راځي او نه به هم څوک ورته کار وکړي. يا د رب ج پښتانه راويښ کړي يا دې...

دا چې اصلي موضوع باندې غږېدلي وو، ويلی شو چې په هره برخه کې، چې هر څوک هر څه ليکلی شي ودې ليکي، ځکه چې ژبه هرې برخې غوړېدا ته اړتيا لري.

زما (درد) دا شعري ټولګه هم د همدې هڅې څخه پيروي کوي، چې کم تر کمه به مې څو پښتو کليمې ليکلې وي، تر څو د پښتو په لويه لمن کې مې يوه لاله ګل ته اوبه ورکړې وي.

دا چې څومره به مې هڅه کړې وي، چې شعر وليکم، څه نه شم ويلی، خو يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه مې ليکلي دي، تر څو لوستونکي ترې خوند واخلي او قضاوت پرې وکړي.

زموږ د ټولنې په هره لوېشت، لوېشت کې د ستونزو، دردونو، کړکېچونو، غمونو بلاخره د جګړو خبرونه آزانګه کيږي. زما په دې تولګه يې هم خپله سيوره غوړولې ده، نو ځکه مې ورته د (درد) نوم غوره کړ. په دې ټولګه کې مې هر يو شعر د يوې انګېزې او پېښې تعريف کوي. هره پېښه د دردونو څخه الهام ځکه اخلي، چې زما شعر بې له درده ليکل کيږي نه. زه شعر کله کله ليکم، کله خو آن په يو کال کې هم شعر خپله جلوه رانې نه ويني، کله بيا د دردونو په لړۍ کې دوی هم راسره ملګرتيا او بدرګه کوي. ښه ملګری دی، ځکه يواځې مې غمونو ته نه پرېږدي، هوساينه او ډاډينه راکوي او هر درد راسره زمزمه کوي. دا به هم ووايم، چې هر شعر ما ځان ته ليکلی دی، ځکه ما ترې خوند اخيستی دی، کله مې هم دا نه دي ويلي چې که لوستونکی يې ولولي نو خوښ به يې نه شي، راځه لږ خواري پرې وکړه ترڅو د لوستونکي د خوښې وړ وګرځي. بس زما او د درد تر منځ دريمه ميکده ده، چې کله په کې خاندو او ډېری وخت پکې اوښکې تويوو.

لوستونکي د يې په ډېر څه رانه ومني.

درناوی

جمال ناصر اصولی

کابل

۱۳۸۹/۱۲/۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژوند

ژوند د انسانانو زده کړل
ورو ورو نارښتيا کوي
وفا ته غاړه نه ږدي
هغې غلي راته غوږ کې ووې
زړګيه زړه مه خفه کوه
لاړم، دادی زر راځم
خو...
خو ژوند ورسره د انسانانو دود وکړ
شپېه وروسته ترې بېل شو
والوته
دادی عمر تېر شو
خو...
خو، هغه کله هم رانغی
هره شېبه شمېرم
هره دقه شمېرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره لمحه شمېرم
ژوند وفا ونه کړه
ژوند رښتینی نه و
ژوند بې باکه و
هو نن بیا هغه شپه ده
چې ما په لومړي ځل د ژوند سره ملګرتیا کړې وه
او تا به په نیمه شپه تبریکي راکوله
هو، ته لاړې
ګوره ور پورې نه کړې
ژوند وفا نه لري
نن سبا زه هم درځم

*کابل ۳۱,۱۲,۲۰۱۹*

(c) ketabton.com: The Digital Library



# میـین

تا یو څه را زده کړل
دومره مینه دې راکړه
چې د زړه په هره برخه کې ګرانښت را ګډ شو
اوس چې ته نه یې
ستا په خالق میـین شوی یم
هرې غږېدا ته یې اوښکې تویوم
مخ په مخ یې ښکلوم
او په نیمو شپو ورته اوږدې اوږدې سجدې لګوم
د (ته لوړ یې) جملې په ویلو، تندی په ځمکه وهم
یواځې د ده ثنا کوم
یواځې دی ستایم
یواځې دی ښکلوم
ستا د ښایست خالق خورا ښکلی دی
ستا د جلوې مصور ډېر هنرمند

۲۰۱۹/۱۱/۲۱
کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درد

لا چـــــې څـــــومره ډېــــر زړيــــږي لا مســــتيږي
دا بـــــد بختــــه درد د اور واخلــــــي بليـــــږي

سـترګې پټـې کـړم چـې خدايـه تـه يـې هېـر کـړې
غـــــم دې ومســــکيږي وخانــــدي خنـــــديږي
زه يـــــې تـــــوره کعبـــــه هســـــې مقـــــدس کـــــړم
بـــس ويرونـــه دي طـــواف کـــوي تـــاويږي
تـــا بـــه وې چـــې ژونـــده زمـــا عمـــر د ســـتا وي
قـــدرت ومنـــل پـــه ټوکـــو نـــه پـــوهيږي
ســـتا د ســـترګو پيمـــانې چـــې خـــدای چپـــه کـــړې
يـــو پـــه بـــل پســـې خمونـــه دي رالـــويږي
زه بـــه څنګـــه دا فـــاني دنيـــا کـــې اوســـم
چـــې دې هـــر قـــدم کـــې يـــاد دی را يـــاديږي

اصـــــولي دې غمـــــو دومـــــره زهيـــــر کـــــړی
لکــــه ونــــه چــــې زړه شـــــي را مـــــاتيږي

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ما او تا مینه کړې

موږ د تیارو د ورکولو په سوچ
سبا ته غیږ ورکړې
ما او تا مینه کړې
ما او تا، د ژوند شیبو ته
هره ثانیه گڼلې
هره دقه گڼلې
ما او تا،
اوږدې لارې ته
او د اغزیو ډکې
د بړبوکیو ډکې
هغه اوږدې لارې ته
بې بېلگې صبر کړی
ما او تا مینه کړې
تر څو وصال ته رسو
تر څو جمال ته رسو
خو، گوره پام به کوو
که وصال نه وو موجود

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا به د خدای تر څنګه
هغه کافور او د تسنیم په اوبو
غاړه غړی
د میو جام جیګوو
پاس تر اووم آسمانه
دغه مقام جیګوو
او بیا په جهر وایو
چې دلته تاته خدایه
کله سجده نه کیږي
موږ د یو بل لیوني
ستا په فردوس جنت کې
یو بل ته ستا په دربار
درنې سجدې لګوو
ستا د بنده ښایست ته
او ستا ورکړي حب ته
مونږه لمنځونه کوو
ما او تا مینه کړې
ما او تا مینه کړې

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژاړي

بس په هر قدم کې دا لعنتي درد دی
هره خوا مې رژوي د شګو بند یم
د خوبونو نه راوځي لوی ماتم شي
غر او سمه په ویرونو کې راګیر کړي
آسمان ښه په نره ژاړي په دا ویر کړي
وریځو خور په آسمانونو پیڅول دی
غرونه ژاړي پرخې ژاړي دښتې ژاړي
هو د هر قدم یادونه سرې سکروټې
پر ما ښخې ورتوي مې
سوځوي مې
دردوي مې

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خوب

خوب مې لیده چې د پرښتو
له ځلانده کاروانه مې کېکاږي
تیارې او وحشتونه سره ځنځیر شوي وي
تر څو مې ځان ته خپل کړي
زه ور سره لاس او ګرېوان وم
تر څو د ابلیس دا لښکرې مې د ځان نه کړي
چې ناڅاپه راویښ شوم
په میز د ایښې قران پاڼې باد اړوي را اړوي
د سورت الاعراف شپاړسم آیت یې مخې ته راوست
ځان سره مې خدای ته پناه ویوړه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګډې وډې

دلتـــه ويرونـــه راشـــى زړه كـــې زمـــا كيـــږدى ووهـــي
پـــه زوره ننـــوځي پـــلار شـــي پلتـــى ووهـــي

دلتـــه ناســـور ناســـور غمونـــه هـــوا شـــوي راتـــه
يـــو بـــل تـــه لاس وركـــړي ګـــډيږي برېـــوكى ووهـــي

هســـــې عجيبـــــه او نــــادره زمانـــــه راغلـــــې
ښـــكلې بربنـــډې كـــړي پـــه خپلـــه ښـــې لنګـــى ووهـــي

دلتـــــه واړه او زاړه ټـــــول د زړګـــــي درد زېـــــږوي
نه شته څوک ښار كې چې په مات زړګي بخى ووهي

اصـــــولي ډېـــــره بنـــــدګانو دنيـــــا ورټلـــــه
ښـــه بـــه وي نـــن چـــې اســـرافيل خپلـــه شـــپيلى ووهـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څنګه ومنم چې نه یې؟

همغسې ژوند روان دی
همغسې خلک ښوري
خلک ژوند کوي خندیږي
لمر شغلې کوي بلیږي
سپوږمۍ ښکلې ده ښکاریږي
ستوري عشق کوي ځلیږي
څنګه ومنم چې نه یې؟
غرونه ښه درانه پراته دي
مرغان ښې سندرې وایي
سپرلی ناځي راروان دی
غوټۍ ګل شي ښکلې خاندي
بوراګان ترینه تاویږي
هره خوا سور لاله زار دی
هره خوا مینه او ژوند دی
هره خوا په میو مست دي
هره خوا همغه ژوند دی
څنګه ومنم چې نه یې؟
کومه خوا درپسې درشم
خیال او فکر مې تسخیر دی
ننواتې درته کړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان راوښيه يې چيرې؟
سا مې بنده، بنده کيږي
په خپل ځان کې زنداني يم
خوب کې ته په ويښه ته يې
د سجدې ثنا مې ته يې
راته ووايه يې چيرې؟
څنګه ومنم چې نه يې؟
زه د ژوند سره عادت کړم
د شکرو خوند د راکړ
معطره د دنيا کړه
شپه او ورځ د را سينګار کړه
تور تمونه د لاهو کړل
بړبوکۍ د نسيمي کړې
په مسکاوو د کړم روږدی
هر يو غم د ترنم کړ
هر يو وير د سلامي کړ
هر يو درد د ملهمي کړ
دوزخي جانان د ښکول کړ
ترينه جوړ د اصولي کړ
څنګه ومنم چې نه يې؟
ناڅاپي هغه ورځ ښار کې
تورتمونه راخواره شول

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړه غمونه رالمبه شول
هره خوا د وير نارې وې
هره خوا جوړ قيامت و
هره خوا په وينو سره وه
خلکو وير کاوه په کلي
ټول بازار په وير اخته و
آسمان هم ژړل په کريغو
وريځې تورې وې له غمه
لکه ځمکه چې لمبه وي
ښکلې حوره پرې پرته وي
اندامونه يې ورتيږي
له اووم آسمانه چيغې
لاندې ځمکې ته رالويږي
دا به څنګه تيږه زړه وي
ځای په ځای چې نه دريږي
څنګه ومنم چې نه يې؟
د مسکاوو دور تېر شو
د خنداوو دور تېر شو
خوښۍ بورې شوې او کونډې
محبت له ښاره ووت
رڼاګانې دوزخې شوې
ترنم ستونی يې بند کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا به وویل چې ژونده
زما زړه زما دلبنده
ای زړګیه ټول ژوند ته یې
ته هر څنګه زما ښه یې
دا خبرې به دې کړلې
اوس د شوندې ژبه نه شته
اوس د ناز او مینه نه شته
څنګه ووایم چې ژوند کړم؟
څنګه ومنم چې نه یې؟
خوب ارام مې په ازغیو
په سکروټو کې راګیر یم
غم لا څه چې خپله ویر یم
هوساینه شوه بدبخته
دنیا اور واخیست سوځېږي
د زړه کور کلی مې وران شو
لولپه شو، لولپه شو لولپه شو
څنګه ووایم چې نه یې
څنګه ومنم چې نه یې؟

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درد

درد مـــې غلـــی غلـــی خـــوري د شـــګو بنـــد دی
درد بـــې خدایـــه بـــې رســـوله ګرځـــي رنـــد دی

درد د ښـــکلي د بـــدرنګ تفـــاوت نـــه کـــړي
درد ځپلـــــی، درد ســـــوځلی زمـــــا ژونـــــد دی

درد خـــوږ شـــوی لکـــه ســـاه مـــې د کـــالبوت ده
درد لا نـــورې کیســـې هـــم لـــري کـــه پنـــد دی؟

درد مـــــلا دی، درد قاضـــــي دی درد ســـــاقي دی
درد ښـــوونځی دی، درد پوهنـــه لـــوی دیوبنـــد دی

درد بنســـــټ د اصـــــولي د دغـــــې ژونـــــد دی
درد مســـــتي ده، درد د دغـــــې دنیـــــا خونـــــد دی

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انسان

سخت بې اختیاره پیدا کړي یو خدای
نه په راتلو نه په ورتلو کې اختیار
هره شیبه مو ازموینه اخلي
د هر یو پل راته تقدیر ټاکي
سترګې مو ځان ته لاس مو ځان ته پوښتي
د هر یو شور رانه پوښتنه کوي
سخت بې اختیاره پیدا کړي یو خدای
نه په راتلو نه په ورتلو کې اختیار
ځمکه، آسمان کې جنتونه د خدای
لاندې او پاس دي دوزخونه د خدای
کله چې نه پوهیږو، څه ته پیدا؟
موږ عالمان یې هستولی هم شوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولې د یو او بل سرونه وهو؟
ولې دا تورې پیدا کړي دي خدای؟
زموږ سجدې ته خدای اړتیا نه لري
ولې یې مونږه هستولي یو خدای؟
ولې ملا د اور کیسې اوږدوي؟
ولې ملا له محبته انکار؟
ولې ابلیس یې هلته و نه تاړه
ولې ابلیس ته دومره واک ورکړ؟
مونږه چا وپوښتو چې ژوند درکوو؟
بیا بې اختیاره رانه ساه اخلي
سخت بې اختیاره پیدا کړي یو خدای
نه په راتلو نه په ورتلو کې اختیار

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# توبه

د جنـــون د خـــدايی دا جلـــوه خـــو نـــه وه
چـــې مـــې وليـــده پـــه مـــنځ د بتخانـــه کـــې

عربـــي دنيـــا مـــې چـــې کـــړه پســـې هســـې
هغـــه بـــل چيـــرې و، نـــه و پـــه مکـــه کـــې

غـوړپ د ميو مې د ستوني غلی تېر شي
چـې ژړغـونی شـمه غلی پـه سـجده کـې

چـې برنـو کـې درتـه هـر غشـی تيـار کړي
د ځيګـر پـه ځـای د وولـي پـه دا زړه کـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د لېـــرو د مچکـــو وار يـــې تېـــر شـــو
پرېـبړده واچـوي دوه شـونډې پـه پيالـه کـې

چـې يـې سـر درتـه پـه ولـي بانـدې ايښـی
ترمـې اوښـکې يـې تـويږي نيمـه شـپه کـې

خـدای مـې هـره بتخانـه کـې شـو پـه سـترګو
هــم مــې وليــده پــه هــره يــوه کعبـه کــې

د هــر جــام يــې ځکــه ډکــې بوســې اخلــم
نعمتونــه يــې لا ډېــر شــي پــه توبــه کــې

نـور کـه ورځ کـې راتـه ډکـې پيـالې اخلـي
اصــولي غريــب مــې ونيــوه پــه شــپه کــې

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګډې وډې

لا خـــوره ده تـــوره شـــپه پـــه ښـــار د ښـــکلو
تـــور کارغـــان راچـــاپېر شـــويدي پـــه ولـــو

خدايـــه کلـــه بـــه موســـا پـــه کلـــي راشـــي
اژدهـــــا رابـــــدل شـــــويدي پـــــه کلـــــو

څـوک يـې نـوم څـوک يـې عـزت ورڅخـه اخلـي
خپـــل هېـــواد مـــو رانيـــولای دی پـــه شـــلو

د ملالـــــې ســـــر ټيکـــــری هېـــــواد جنـــــډه ده
دلالان يـــې راتـــه خـــرڅ کـــړي پـــه ممپلـــو

د افغـــان د ســـر قيمـــت هلتـــه مـــالوم دی
ســـــل کلـــــدارې، زر تومانـــــه د وژلـــــو

اصـــولي دی ورتـــه هســـې شـــان بـــې باکـــه
لـــور پـــه لاس دی د کيکـــرو پـــه ريبلـــو

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

زه مصـــور یمـــه تصـــویر جـــوړوم ســـا ورکـــوم
تـــورې تیـــارې زېبښـــمه تـــورو تـــه رڼـــا ورکـــوم

د کلـــي تـــول ویـــرجن راتـــول کړمـــه غمونـــه اخلـــم
د ځـــان ســـخي جـــوړوم، هـــر ویـــر تـــه خنـــدا ورکـــوم

زه د کیمیـــا پـــه هـــره درگـــه راتـــول شـــوی یمـــه
لـــه وچـــو درگـــو نـــه الهـــام اخلـــم دوا ورکـــوم

مـــوږ د تـــولنې پـــه خـــدمت کـــې کـــافر شـــوي یاســـتو
خدایـــه لتـــا ورتـــه نبـــوغ تـــه مســـیحا ورکـــوم

زمـــا خبـــرې د دې ښـــار پـــه غـــوږو نـــه نـــوځي
مـــړو تـــه ډول وهمـــه ســـور لـــري گـــډا ورکـــوم

زه اصـــولي نـــن د ړنـــدو ښـــار کـــې نبـــوغ لټـــوم
یـــا مصـــور تـــه د تصـــویر ښـــکلې مانـــا ورکـــوم

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قاضي

تـــا داورونـــو برېوکيـــو خـــدای ليـــدلی نـــدی
تـــا دې ده قهـــر او غـــرور کلـــه منلـــی نـــدی

تـــا د جنـــون فلســـفه کلـــه هـــم لوســـتلې نـــده
د دوزخ اور دې لا پـــه کـــور در غورېـــدلی نـــدی

تـــه د هيـــرا منـــډيي جـــوړ اســـلام آبـــاد نومـــوې
زمـــا جومـــات راڅخـــه اخلـــې چـــې مينځلـــی نـــدی

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تورکی

ښکلې مسکا له دې دیاره څخه کډه کړې
د افغاني حرم فضا یې ګډه وډه کړې

دوی د ماشوم غوښې په اور باندې راوسوځوي
تورکی پنجاب کې راته ناست دی ښه یې ډډه کړې

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژوند ماسره مينه کوله

ژوند ماسره مينه کوله
د جنون له تورو تيارو يې ساتلی وم
هره غېږ کې يې د مشکو خوشبوي خوره وه
هره مسکا يې د ژوند سا وه
هر لمحه يې د روح غذا وه
ژوند ماسره مينه کوله
خو، يو ناڅاپه مې د خوشالۍ په کور کې
د رڼاګانو برج راونړېده
تيارې انګړ ونيوه
د هرې خونې ور کې
بلاوې لنګې شولې
غوغاوې ګډې شولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رڼاګانو اور کې پاتې سکروټې شولې
ژوند ماسره مينه کوله
ژوند ماسره مينه کوله
اوس مې د کور چاپېريال
ساندې ويرنې وايي
زما د کور په وره يې
د ( تياره ) نوم ليکلی
د ناروغۍ په څا کې
د زړه ټکور لوېدلی
ژوند ما سره مينه کوله

۱۳۹۶/۱۲/۲۲
کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لوبه

د ژونـــــد د لوبـــــو بـــــه زه څـــــه ووايـــــم
ســـــتړې يـــــې ووايـــــم کـــــه ښـــــه ووايـــــم

هـــر څـــوک پخپلـــه دي حســـاب يـــې خپـــل دی
ورور پـــــلار و زوی کـــــه د نيکـــــه ووايـــــم

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لويه خدايه

لويه خدايه، لويه خدايه
د وطن د ښمنان واخلې
زموږ چم دښمنان واخلې
هره خوا جوړ قيامت دی
هره خوا په وينو سره ده
هر ماشوم له پلاره بېل شو
هره مور نن په ژړا ده
هره ښځه واويلا کا
تا وحشت په ديار راوست
بربريت په ديار راوست
نن دا څومره شوې بې ننګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلې مور ټيکری د واخيست
خپله خور د په ژړا کړه
ورور د وسوځاوه اور کې
پلار شمله د لولپه کړه
نن زګېرويو ښار اخيستی
بړبوکيو ښار اخيستی
تورتمونه راخواره دي
د انسان د بدن غړي
هره خوا کې نن پراته دي
ماشومان بې لاسو پښو شول
لويه خدايه، لويه خدايه
د دې خاورې بې ننګ زيږی
لولپه کړې او تالا کړې
د پنجاب زامن به خاندي
په مشهد به نن مېلې وي
بې عزته بې حرمته
سم يې وشرموې ربه
لويه خدايه، لويه خدايه
دا نو څنګه بندګان دي
دا نو څنګه انسانان دي
دوی به هم نن خوشالي کا
د بې زويه مور په وير کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بې پلاره زوی نارو ته
د بې wروره خور سلګۍ ته
وایم څنګه خندیدای شي
وایم څنګه ټینګیدای شي
د ورور غوښې به خوړی شی
رب ته څنګه مخ کیدای
اصولي ترې پناه غواړي
لويه خدايه، لويه خدايه

***

کابل
۱۳۹۶/۱۱/۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دنیا

ای د مجهـــولې دنیـــا خلکـــو څـــه دنیـــا دا نـــده
ژونـد تــه مــو ســا ورکــړي، ســا وباســي وفــا دا نــده

ژوند راتـه ښـکلی کـړي، سینګار یـې کـړي رڼـا راښـیي
بیا یـې را شـپه کـړي، تـوره شـپه کـړي څـه جفـا دا نـده؟

مـونږه لـه خدایـه پـه سـجدو کـې ځانتـه ژونـد لټـوو
دنیـــا فـــاني ده، خیـــر غـــواړو خـــو د عـــا دا نـــده

مـــه پســـې زغلـــه، مـــه رازغلـــه دنیـــا ویـــر دی ګلـــه
نـــه بـــه دا ســـتا شـــي، نـــه زمـــا ده د هیچـــا دا نـــده

ژونـد کلـه ژونـد شـي کلـه بنـد شـي کلـه اور ټوکـوي
کلـــه مجنـــون شـــي اصـــولي شـــي بیـــا لـــیلا دا نـــده

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لويي

کلـــه کلـــه وجـــودي فلســـفه ملـــه کـــړي
کلـــه، کلـــه لـــه جـــام والـــوځي دکـــه کـــړي

د هيـــرا منـــډيي کلـــي کـــې چـــې زيـــږي
کـــابلي جومـــات د ننـــه دمکـــه کـــړي

پـــه ســـجده جانـــان تـــرې ووژنـــي وي غلـــی
اصـــولي لـــه خپلـــه خدايـــه نـــه گيلـــه کـــړي

پـــه ممبـــر کـــې ورتـــه خپـــل کتـــاب ايـــرې کـــړي
لـــويي دغـــه ده لـــويی ده حوصـــله کـــړي

څـــوک بـــه ووايـــي چـــې دوی تـــه حســـاب نشـــته؟
څـــوک چـــې څنگـــه او پـــه څنگـــه معاملـــه کـــړي

***

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

کله چې دردونه سره غلي شي ابهام واخلي
کله چې تیارې سره یو موټی شي ماښام واخلي

هلته چې طبیعت خپل مرامونه په چا ومني
ځکه یې ماشوم له پیو سټری شي یو ګام واخلي
کله چې حیا په تراره د بازار وڅرخي
لوڅه شي بربنډه شي بیا هله زما نام واخلي
ښکلې سره ټولې دي دمونه د وصال کوي
کله به کوډګرې مصر ځانته کړي او شام واخلي
ده راته ویل چې میخانې د کفر ځالې دي
غلی ور نیږدې شي له کړکیه څخه جام واخلي

کله به درانده د اصولي دا کیسه ومني
یو پلو چې حوره وي په بله دې غلام واخلي

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګډې وډې

که د وکتل د عشق د دنیا لاندې
معطره به نرۍ وي لاندې باندې

د سکوت دنیا دې هسې شوه په چیغو
سم ویده وې، شونډې وینې ورته خاندې

په زاړه ښایست د تول خمونه تاو کړل
اور به پورې شي که ود زبیښي تاندې

چې رباب سره ساقي زمزمې باسي
وړي تږي د وو، خورو به ورته سپاندې ۱

شیخ د ښکلو په کوڅه کې بلا وخوړ
اصولي وې چې یې شونډې وې رپاندې

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتونه

سـرېخور د زمـانې پـه ښـار راغلـي
د لوليـو لنـډغرو ښـاد دي كلـي

ملايكـې يـې چـې ليكـي شـرم كانـدي
د آدم پـه بچـي ومسـكيږي خانـدي

نـن يـې هـره خـوا غيـرت پـه اوبـو څكلـى
بـې ننګـي ورتـه ښـكاريږي لكـه ولـى

د شـملو او د برېتـو خبـرې لويـشي
اتفـاق ورځنـې نـه كيـږي كـه غشـي

د تـاريخ پـه هـره پاڼـه يـې نـن تـو كـړل
د بـې نسـله اورتينـو څخـه يـې زو كـړل

نـن پـه ټـول وطـن كـې جـوړ دا هسـې شـر دى
پښـتنو تـه بـې نسـبه، سـكندر دى

څـوک يـې سترګې تـرې وباسـي څـوک غوږونـه
شـمله ورو ويـده شـوي دي رګونـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیــــــرې وخریـــــــئ اوږده، اوږده برېتونـــــــه
پــــه وبـــا دې خولـــه در بنـــده شـــه پښـــتونه

تـــــه د پـــــلار او د نیکــــه خبــــرې وایـــــې
تـــه د نـــر یـــې کـــه د ښـــځې، تـــه د چـــا یـــې

چـــې یـــې ننـــگ وي د شـــملې څخـــه لوېـــدلی
پـــه پنجـــاب کـــې پـــه پگـــړۍ وي لونـــگ وهلـــی

زه جمـــال یمـــه، ناصـــر یـــم، اصـــولي یـــم
پـــدې درې واړو کـــې غلـــی یـــم، ملـــي یـــم

***

کابل
۲۶،۵، ۱۳۹۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دار

دلتـــــه وژنـــــې دي د يـــــار پــــه ژبـــــه
ژونـــد تـــه يـــې دام ايښـــی د دار پـــه ژبـــه

ځـــه پـــه خـــوږه خـــوږه يـــې و زبېښـــلو
قاتـــل مـــو ډېـــر پـــوی دی د ښـــار پـــه ژبـــه

د يـــو عجـــم پـــه ځېـــر امـــين امـــين کـــړو
دی چـــې والـــين وايـــي د مـــار پـــه ژبـــه

پـــوهيږو نـــه وعـــظ کـــې چـــې څـــه وايـــي دی
حـــوري غلمـــان يـــادوي ډار پـــه ژبـــه

اصـــولي تـــول کلـــی ويـــده غونـــدې دی
ويـــا قربـــان يـــې کـــړه ســـهار پـــه ژبـــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کافر

وایـــی چـــې غونـــډ افغانســـتان کـــافر دی
ستاســـو جومـــات کـــافر، قـــران کـــافر دی

زمـــوږ لمونځونـــو ثـخـــه ســـا وباســـي
لانـــدې مـــو ځمکـــه پـــاس آســـمان کـــافر دی

وایـــی ســـبا و نـــن پـــرون مـــو وژنـــو
نـــن مـــو غنـــي پـــرون امـــان کـــافر دی

وایـــي دا خـــاوره بایـــد لولپـــه شـــي
خوســـت مـــو کـــافر دی، بدخشـــان کـــافر دی

ستاســـو تنـــدي د لګولـــو نـــدي
هـــم مـــو قبلـــه هـــم مـــو جانـــان کـــافر دی

اصـــولي ښـــار کـــې مرثیـــې وریـــږي
خنـــدا کـــافره ده خنـــدان کـــافر دی

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګډې وډې

تـــا راتـــه هـــر احســـاس کـــې درد راکـــړی اور راکـــړی
د عشـــق دنيـــا کـــې د مختـــوری کړمـــه تـــور راکـــړی

تـــا د صـــحرا پـــه هغـــه کـــوزه خـــوا چـــې وبـــه خنـــدل
مـا وې چـې خوسـت د راکـړ، دوسـت د راکـړ غـور راکـړی

خلـــک وصـــال پـــه هيلـــه درومـــي تـــرنم غـــږوي
تـــا د ســـندرو ښـــار کـــې غـــم راکـــړی، ګـــور راکـــړی

خلـــک ارام کـــوي، ســـلام کـــوي، مســـتۍ غـــږوي
تـــا شـــوګيرې راکـــړې، ښـــې راکـــړې، شـــور راکـــړی

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خبرې

مکـــــوه خبــــرې را ســـــندرې کـــــه

ژونـــــده را غبرېــــبره او خبــــرې کـــــه
نـــن خـــو بـــه دا گونـــگ تـــرنم ووايـــې

اوښـــکې مـــې دانـــه، دانـــه ببـــرې کـــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وجدان

دلتـــه معيـــار د ســـړيتوب پـــه اکوبکـــو کيـــږي
وجـــدان خرڅيـــږي، ضـــميرونه پـــه ترپکـــو کيـــږي

عجيبـــه خلـــک دي، د ښـــکلو نـــه زړګـــي خرڅـــوي
دوی لا خبـــر نـــه وي پـــه ســـر يـــې ســـر ســـيندکو کيـــږي

زمـــوږ مشـــران پـــه کرســـۍ کينـــي، پګـــړۍ وغورځـــوي
پښـــتو يـــې هېـــره شـــي، شـــميرنه يـــې پـــه ورکـــو کيـــږي

چينـــډخې کلـــه تلـــل کيـــږي، پښـــتانه رايـــاد شـــي
خوشـــحال ويـــل چـــې حســـاب کلـــه پـــه ختکـــو کيـــږي

دلتـــه غيـــرت او پښـــتو دواړو ليلامـــي ورکـــړې
ســـړي ســـينګار شـــي، پيژندنـــه پـــه زرکـــو کيـــږی

دلتـــه معيـــار د ســـړيتوب د ســـر ټيټـــوالی ښـــيي
اصـــولی لېـــرې کـــړه پګـــړۍ، شـــملې تـــه ســـپکې کيـــږي

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګډې وډې

ژونـــد ارزو ګـــانې هيلـــې هيلـــې کـــه وي
بيـــا هـــم ژونـــدي يـــو هيلـــې نيلـــې کـــه وي

هـــره تيـــاره کـــې مـــوږ ســـبا لټـــوو
ورتـــه واړه شـــو مـــوږ دنيـــا لټـــوو

مـــوږ د تـــاريخ پـــه جګـــړو ســـوي خلـــک
ژونـــد کـــوو، هـــر اوره وتلـــي خلـــک

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګډې وډې

تــــږې يمـــه پاڅـــه ســـاقي ســـره راکـــه
ســـپين د وي، واوريـــن د وي لـــږ ښـــه راکـــه

ســـــا بـــــه ننـــــواتې درتـــــه وليــــــږم
ژونـــــد مـــــې دربښـــــلی، هلـــه زړه راکـــه

ســـخت اجـــل نيـــولی يـــم، ســـا نـــه وځـــي
خولـــه پـــه خولـــه راکيـــږده لـــږ اوبـــه راکـــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کمزوري

ای د زورورو خدایـــــه ولـــــې د پيـــــدا کـــــړل
ســـتا کمـــزوري دلتـــه گـــدايان دې د دنيـــا کـــړل

دوی د رڼـــا گـــانو څخـــه ســـوي زړونـــه وېـــوړل
تـا بـه چـې سـبا کـړ، دوی بـه بيـا و بيـا بيگـا کـړل

عشـــق پـــه توفـــاني دنيـــا کـــې هســـې لولپـــه شـــول
بـس د بيلتـون پښـو کـې يـې خـدا، خـدا، خـدا کـړل

تـــولې محبـــوبې کـــه ننـــواتې کورتـــه ورغلـــې
دغه عشـق سـېزلي بـه يـې خـدای کـه پـه خنـدا کـړل

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انګېزه

ورکه انګېزه د شعر لیکلو شوه
نه وه د لیکلو د ویلو شوه

ډېر که راته غوږ کې پسېدلي دي
نه وه د منلو، د منلو شوه

نور به د غزل توري جوړ نکړمه
دا کرونده وچه، د رېبلو شوه

مسته د غزل دنیا ته ووته
پېغله انګېزه د ګډولو شوه

شعر ښکلي کتاب ته به مې ژوند ویل
دا زنده ګي توره، د رټلو شوه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناڅې

څمکـــه تـــاويږي لمـــر تـــه ستـوري نـــاڅې
قلـــم چـــې مينـــه کـــوي تـــوري نـــاڅې

جانـــان چـــې ورو، ورو نـــازه پښـــې لگـــوي
ميـــين يـــې تـــاب نلـــري ښـــوري نـــاڅې

د ســـپکو تمـــه د درنښـــت کلـــه شـــي
تـــر څنـــگ يـــې غـــم وي ورتـــه گـــوري نـــاڅې

کـــه د اتـــڼ څنڅيـــر کـــې يـــار ووينـــئ
خـــود بـــه د خپـــل جانـــان پـــه لـــوري نـــاڅې

دلتـــه شـــملو ســـره برښـــډ خلـــک دي
د اصـــولي ســـره مختـــوري نـــاڅې

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

اورونـــه ســـره ســـتوي شـــول، رنګونـــه يـــې راپرېښـــودل
ګلونـــه ســـره مـــړاوې شـــول، چمونـــه يـــې راپرېښـــودل

ســـاقيانې ســـره کېناســـتې خمونـــو کـــې زمـــزم ويشـــې
خمـــارو تـــرې توبـــه وکـــړه، جامونـــه يـــې را پرېښـــودل

د حـــورو او غلمـــانو خيـــال پلـــو ورتـــه دروغ ښـــکاري
صـــوفيان مـــو لېونيـــان شـــول، جنتونـــه يـــې را پرېښـــودل

د مينـــې کنريـــانې مـــې اخـــر پـــه بلـــه والـــوتې
کلونـــه مـــې ســـاتلې وې ريســـونه يـــې راپرېښـــودل

ځـــواني ســـم مـــازديګرو، د ماښـــام پـــه لـــوري ووتـــه
شـاعر يـې کـړم د عشـق، ځـوان شـعرونه يـې راپرېښـودل

جمـــال مـــې د ناصـــر دی، اصـــولي بـــدرنګی بـــوټی شـــو
خـــو بـــر کلـــي کـــې جـــونې دي، ګلونـــه يـــې راپرېښـــودل

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غلیم

پــه هغــه گــران یــو، ســینگار شــوې جنــازې راکــوي
د حــورو خیــال کــې، د جنــت ســپینې وېــزې راکــوي

وایــــی د هـــر ماشـــوم پـــه قتـــل بـــه غلمـــان وگټـــې
پـه لاس کـې تـوره، پـه بـل لاس کـې مـې نیـزې راکـوي

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پښتانه

زمـــا بريتونـــو کـــې ولاړ د وحشـــت غشـــي نـــدي
تـوی دي، جانـان ليمـه پرشـونډو مـې، څـه خوشـي نـدي

دغـــې شـــملو ســـره ولاړ، دغـــه خيـــرن وګـــړي
ســـم پـــه درهمـــو پيـــول کيـــږي، د يـــو څشـــي نـــدي

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دنیا

دنیا لکه ځنګل دی
داړونکي پکې خاندي
بې داړې پکې ژاړي
زمری يې قهرمان دی
هوسۍ يې د خوراک

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناوکۍ

دلتـــــه یــــوه خبـــــره شـــــتون نلـــــري
پګـــــړۍ لـــــري، شـــــمله پښـــــتون نلـــــري

مـــــونږه شـــــړل د هغـــــو غرونـــــو خلـــــک
نـــــه یـــــو پـــــه مینـــــه د ښـــــارونو خلـــــک
تـــــه د بـــــازار د ژونـــــد نانځکـــــه شـــــولې
نـــــن نـــــاوکۍ، نـــــاوکۍ ورکـــــه شـــــولې
ماتـــــه د ښـــــکلي خـــــوب مانـــــا ښـــــکارېدې
سـتر ګې مـې خلاصـې کـړې بـلا ښـکارېدې
ســـــتا پـــــدې تـــــور جبـــــین خبـــــرې کیـــــږي
نـــــن دې پـــــه ســـــپین کلـــــي ســـــندرې کیـــــږي
ای د جنـــــون حماســـــې مـــــه ژړېـــــږه
کـــــه نـــــه دریـــــږې بیـــــا د زړه ژړېـــــږه

نـــــور پـــــدې کلـــــي ننـــــواتې مکـــــړه
هغـــــه در پـــــاتې نـــــوره مـــــاتې مکـــــړه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نارواوې

زه بــــه کـــــومې نـــــاروواوې درتــــــه ژاړم
پـــه ليـــدلو يـــې يـــو صـــبر راتـــه غـــواړم

د لـــولۍ پـــه لاس وختونـــه تـــوږل کيـــږي
زمانــــــه بــــــې لارې شـــــوې ورنـــــه لاړم

کــه د دوی پــه شــړی ځــان لــه يخــه ژغــورم
دوی ســــره بــــه لــــه ملتــــه شــــونډې داړم

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

نـــور مـــې عـــادت زلفـــو نـــه غرونـــه غـــواړي
زمـــوږ توبـــه کـــه څـــوک يـــې زړونـــه غـــواړي

هغـــــه لـــــيلا مـــــې عجيبـــــه غونـــــدې ده
زقـــــم راواخلـــــي او ګلونـــــه غـــــواړي
زمـــــوږ جنـــــون پښـــــتو غيـــــرت پښـــــتو دی
لـــــه پښـــــتنو وځـــــي ننګونـــــه غـــــواړي
جـــوني نـــن مســـتې دي شـــغلې خـــوروي
هلکـــان څـــاري تـــرې روحونـــه غـــواړي
مـــــوږ مســـــتانه يـــــو د جـــــامونو تـــــږي
ځينـــې راتـــاو شـــي تـــرې خمونـــه غـــواړي
څـــــوک ســـــريندې د وچکـــــالۍ غـــــږوي
ډېـــر يـــې ويـــالو کـــې دريابونـــه غـــواړي
پـــه خولـــه کـــې ژبـــه يـــې داعـــش ولاړ دی
زمـــــوږ برېتونـــــه اورميګونـــــه غـــــواړي

اصـــولي کفـــر تـــه پـــرې ونـــه وځـــي
لاس کـــې اســـلام درکـــړي پيکونـــه غـــواړي

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# گډې وډې

موږه پخپلو سره تور وېشلی
لکه انگور د غېږې زور وېشلی

موږه یعقوب غوندې کمزوري خلک
ټوټې، ټوټې مو دغه کور وېشلی

لاس مو دنیا ته دروېزه کې ایښی
وطن مو سلو ته په پور وېشلی

موږ ته کعبې څخه رهبر چې راشي
قدم یې اور واخلي او اور وېشلی

موږه کرا تل د دنیا غېږه کې
الله اکبر وایو او شور وېشلی

موږه کورونه او حجرې وېشلي
لا هدیره کې مو خپل گور وېشلی

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نن شاعران

شـــــاعران دي شـــــونډې ســــتايي
ښــــه پيــــران وي پونــــدې ســــتايي

پــــــه عفـــــت د بـــــل نــــازيږي
د بــــل مــــور او خوينــــدې ســــتايي

چـــې د نفـــس هـــوا يـــې راشـــي
جـــونې څـــه چـــې کونـــډې ســـتايي

ځـــان تـــه لـــس ګـــزه بـــورکې کـــا
خـــــو د بـــــل بربنـــــډې ســـــتايي

دوزخـــــي ښـــــکلې کـــــا جـــــوړې
بيـــــايې حـــــورو شـــــانتې ســـــتايي

پــــــه وطــــــن يـــــې اور بليـــــږي
کنـــــډوالې او کنـــــدې ســـــتايي

يتيمــــــان اوښـــــکو لاهـــــو کـــــړل
دوی د کفــــــر ژرنــــــدې ســــــتايي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلکشا کې اور بلېږي
دوی غومبري زنې ستايي

په هر کور کې جنازې دي
دوی جنۍ پمنې ستايي

که د مړو جنازې کړي
دوی يې ښې کفنې ستايي

زمور بوټو اور اخيستی
دوی د بل شنې ونې ستايي

خپلو زانو چوپان جوړ کړي
خو د بل کوترې ستايي

ايتونو ته اور ورکا
خو د بل خبرې ستايي

اصولي شاعر د اور شه
چې د بل شاعرې ستايي

*کابل*

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکـــر مـــې د بـــل د غـــاړې پـــړی و
انـــد کـــې مـــې د ننـــګ د غیـــرت زړی و

مـــونږه لېونیـــان د پـــورې کلـــي یـــو
هـــر بـــې ننګـــه مینـــه کـــې تړلـــي یـــو
شـــور مـــو پـــه ذهنونـــو کـــې د مینـــې دی
کـــم نفـــرت مـــو ډېـــرو نـــه د ځینـــو دی
کلـــه بـــه لـــولۍ پـــه اوبـــو ســـپینه شـــي
کلـــه بـــه اوبـــه واوړي او وینـــه شـــي
کلـــه بـــه اوبـــه پـــه اور قبضـــه وکـــړي
کلـــه بـــه بـــې دینـــه دیـــن روضـــه وکـــړي
کلـــه بـــه پښـــتون پـــه ننـــګ د خپلـــو شـــي
بـــل ځـــل بـــه نـــن بیـــا ســـم د ځپلـــو شـــي

نـــن کـــه اصـــولي د ســـره لېـــرې شـــو
شـــرم یـــې پکـــار دی د خبـــرو شـــو

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن مې ولې میخانه کې خمار نشته؟
سپرلی راغی په سپرلي کې بهار نشته

نن مې هر کور کې تړلې جنازې دي
جنازې دي، جنازې دي بیمار نشته
شپه سهار سره غړیبړي چې درځمه
توره شپه ده، توره شپه ده، سهار نشته
باغ د ګلو مې کرلی و، په مینه
مړاوې کیږي، مړاوې کیږي ملیار نشته
پښتانه دي، پښتانه دي دغه خلک
پښتنو کې،پښتنو کې کوم ځار نشته
مور د خپلو مینه نه منو، غیرت کړو
د پردو په پښو ایره یو وقار نشته
مور د هر ماشوم د سره حوره غواړو
سر یې ووهو تر عمره یې دار نشته

خدایه خیر کړې پنجاب په دین پاچا دی
اصولي مو تل افغان دی، خو وار نشته

*۱۳۹۵/۲/۱*

*کابل خوشال خان مېنه*

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغان

اې د عمرونـــــــو مذبـــــــذبو خلکـــــــو
تاســو دا خپــل هېــواد وران کــړی چـــې دی

چـا تــه بــه خـدای لــه کومــه مینــه ورکـړي
تاســـو دا خپـــل غـــرور وژلـــی چـــې دی

نـــه بـــه لـــه خدایـــه درتـــه وحـــي وشـــي
تاســـو اســـلام خپـــل شـــرمولی چـــې دی

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سوی

خلکـــه دا پـــورې ښـــکلي کلـــي کـــې یـــم
معشـــوقه ســـا پـــه وروړزلـــي کـــې یـــم

مـــا پـــه تنـــدیو کـــې جنـــون وګـــورئ
تنـــده پـــه هغـــه ورور زبېښـــلي کـــې یـــم

مـــور د خپـــل ورور او خـــور تـــاتوبی ســـوی
تـــور لولپـــه دې هېـــواد ســـوي کـــې یـــم

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خپل نه منو

خپـــل نـــه منـــو نـــور منـــو
خوښـــــه نشـــــته زور منـــــو
ســـوله مـــو خوښـــيږي نـــه
هـــر عصـــر کـــې شـــور منـــو
ســـپينې اوبـــه خـــړې کـــړو
ځـــان ســـوزوو، اور منـــــو
ځـــان پـــه خرڅولـــو يـــو
ســـور منـــو و تـــور منـــو
مـــوږ ځـــان غيرتـــي بولـــو
تـــل کـــرا يـــو ګـــور منـــو
ټـــپ نـــه پټـــې ســـوزوو
خـــوښ يـــو چـــې ټکـــور منـــو
خپلـــو تـــه تربـــور وايـــو
کـــور کـــې کلـــه ورور منـــو
مـــوږ د اصـــولي پـــه شـــان
مينـــه کـــړو او پـــور منـــو

***

١٣٩٤/١٢/٢٣

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګډې وډې

تیارې اور راباندې بل کړ، چې رڼا شوه
سوځېدمه، لولپه شومه غوغا شوه

تیارې ووې، رڼا هسې غوندې څېز دی
الهام زه یم چې رڼا کې څه مانا شوه

وې یې وسوځېږه شمعه شه بلېږه
بلېدمه،چارچاپېره مې خندا شوه

تر وصاله د هجران خوندونه ډېر دي
لیلا تش په نوم جلکۍ وه خو لیلا شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادم خـــان کــه پـــه ربـــاب کـــې و ښـــاغلی
درخـــانۍ هلــه درخــو شــوه چــې شــیدا شــوه

پــه وخــت لــس ځلــه مییــن شــم چــې نظــر کــړم
نـــه پوهیږمـــه چـــې مینـــه مـــې د چـــا شـــوه

عرفـــات کـــې مـــې هېـــواد مینـــه ژړلـــې
دعاګـــانې وې، زاریـــو کـــې ښـــېرا شـــوه

نـــه پـــوهیږم د جنـــت زه دروازه یـــم؟
کنــه هــر کــور کــې مــې ولــې نــن غــزا شــوه

پـــه حـــدیث یـــې پټـــوي منحوســـې ښـــځې
د پنجـاب پـه هـر یـو غـولي کـې چـې زنـا شـوه

اصـــولي همـــدومره وایـــم وکـــړې خیـــر
ســتا د هــر ممبــر د لانــدې څــه بــلا شــوه؟

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزلګوټې

اوربلکــــي مــــې پـــه زړه کــــې دي نتلـــې
چـــاچې ســـترګې راتـــه مړې،مـــړې وزملـــې

د ځــانمرګي پــه خبــر هســې رانيــږدې شــوه
غبــږه يــې راکــړه رانــه ورانــې کــړې محلــې
کــه د حــورې وزر وکـــې مـــا ويـــده کـــې
خـــدايږو مـــا کلـــه پـــه مينـــه وې منلـــې
زبزبانـــه ښـــاپيرۍ بـــه وې تـــور تـــم کـــې
پـــه رڼـــا کـــې مـــې تـــه کلـــه يـــې اغلـــې
يـو وار نـدى چـې پـه تخـت درپورتـه کيـږم
پـه ملتـان پنجـاب مـې لـس ځلـه موښـلې

د پښـــتون د افغـــاني غيـــرت تـــه ګـــوره
لوخــــه راغلـــې مـــا مســـتوره و ليږلـــې

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کتاب

چـــا چـــې کتـــابونو ســـره کلـــی دی
چـا چـې دا کتـاب پـه دیـن منلـی دی

شـــونډو د لیمـــو تعریـــف یـــې کـــړی دی
ځـان کـې یـې یـو ښـکلی ځـان مونـدلی دی

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګډې وډې

زما د ژوند په غذا کې
د یوه ترخه مرچک غوندې یې
چې ته پکې نه وې نو بې خونده حسیږي
خو چې پکې وې بیا خوړل کیږي نه
بې خوړو ژوند نه کیږي
بې خونده خواړه تیریږي نه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مینه

چېرې رنګ پیدا کړم دا دنیا راته رنګینه کړم
کرکې سره ټولې کړم سمبالې یې په مینه کړم

مینه صدقه کړم صدقه، صدقه مچې کړم
دا د نفرتو دنیا کې هر نفرت بې دینه کړم

ستا د سرو انګورو څخه هسې اوبه وباسم
سره نشه یې سپینه کړم دنیا درته واورینه کړم

هره د زړه درد مسکا دې دومره غېبر کې ونیسم
شنه یې د خندا نه کړم هسې یې ګلورینه کړم

اوښکه د لوېدو مخکې د دومره په اوف ووژنم
پورته یې په اسمان کړمه هلته یې شاهینه کړم

پرېبږده چې ملا راته د کفر زندۍ واچوي
ژوند دې اصولي راته دا خبره سپینه کړم

***

۲۰۱۶-۰۱-۰۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مانا

یــو معصــوم غونــدې انســان راتــه رڼــا شــو
ماناګـــانې رانـــه ورکـــې وې مانـــا شـــو

بــس تــول ژونــد مــې د دردونــو تــوره شــپه و
یــو ناڅاپــه ســترګه خلاصــه شــوه ســبا شــو

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګډې وډې

مــوږه د چــا پــه لــوري و زغلــو ســجدې وکــوو
د وخــت د کــوم ظــالم پــه غــولي کــې تــوبې وکــوو

پـه خولـه يـې لاس راتـه را ايښـی دی چـې نـه بـه ژاړې
د وخــت د کــوم موســا پــه وره کــې دا ګيلــې وکــوو

ټولــو پخپلــه راتــه زړونــه را ورتــه، ورتــه کــړل
د کــوم مــلا کتــاب راواخلــو تــرې ښــېرې وکــوو

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بې وفا

څينې اشنايان د کورنيو الوتونکو په څېر دي
چې د قفس ور يې واز وليد
بيا ستا د عمرونو مينې ته نه ګوري
والوځي
هيڅ شاته نه ګوري

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# روژه

وې يې
روژه هم ستا په څېر ور، ور ځان جوړوي
بريښي ستا په څېر مې دا هم پرېږدي
ما وي د خفګان خبره نده
کال ته بيا هم راځي

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګډې وډې

راشــــه د ربـــاب غـــږه نــــن راتـــه ســــندره شــــه
ګونګـه خولـه د خلاصـه کـړه بیـا راتـه خبـره شـه

تـــه مـــې جنتـــي حـــوره دغـــه اور مـــې ووژنـــه
تـه مـې هسـکه سـروه شـه خونـد راتـه ګورګـوره شـه

دغــه خمـــاري مینـــه ســـمه نـــور رنګینـــه کـــړه
ســم مــې پــه زړه وچیچــه ښــه ســوغږی بمبــره شــه

واخلــــه رانـــه ویــــر ژړا مینــــه ګلورینـــه شــــه
بیــا د کــوه قــاف ځځــه ســپینه شــان کــوتره شــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

تــا راتـــه د مينـــې دغـــه ټولـــه دنيـــا ورانـــه ګـــړه
ژونـــد کـــه پرښـــته وه نـــو تـــا ولـــې را پېښـــمانه کـــړه

دومــره مــې تنــدى درتــه پــه ډاګ پــه وهلــى دى
دومــره مــې ســجده کــړې چــې ســتا قبلــه مــې ورانــه کــړه

ســتا پــه کــور حــرم کــې مــې پــه اوښــکو ويــالې جــوړې وې
تــش مــې درنــه غوښــتې وو چــې دا خونــه ودانــه کــړه

تــه د ښــکلو خــداى يــې تــه معبــود د هوښــيارانو يــې
اې د لېونيـــــو خدايـــــه داتيـــــاره روښـــــانه کـــــړه

تـــه د ګلـــو خـــداى يـــې تـــا ښـــکلا ورتـــه ورکـــړې ده
تـــه د ازغـــو رب يـــې نـــوره دا قضـــيه اســـانه کـــړه

تـــا راتـــه تـــوپير د تـــور او ســـپين پـــه مينـــه ايښـــى دى
ســـپينو کـــې د تـــورو مـــې يـــوه شـــيبه خندانـــه کـــړه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لار

زمـــــونږه لار د عقيـــــدي ورکــــــه ده
هــم د ممبــر هــم د ســجدي ورکــه ده

پــر مــوږ يرغــل کــي تکبيرونــه وايــي
لار د کعبــــي او د مکــــي ورکــــه ده

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

مونږه د اور په پوکو ناڅو خپله نه ګډیږو
مونږ د ډالر او د کلدارو په ویر نه مړیږو

منو چې ټول عمر مو وینه په اسلام ورکړې
خو یو عادت لرو پیسو باندې هیڅ نه بسیږو

هغه د لنګ پنجابی سرو سره تللی نه شو
مونږ پښتانه یو د قاغذ په بیعه ښه خرڅیږو

ښه که د غرونو لیوني یو د بازونو ښکار کړو
ولې د کونډو د یتیم په اوښکو نه زوریږو

موږ میخانې لرو بې بیعې ډک خمونه لرو
سهار بیګا یې څښو تشیږي نه او نه مستیږو

د جنت لاره د کابله تېره شوې که ده
اصولي وواية صرات له پله کله لویږو

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل گوټی

کلـه مـې ژونـد هـم پـوروړی کـړي چـې مـه غږېـږه
د نـــورو کبـــر او غـــرور پيـــالو تـــه مـــه مســـتېږه

پرېـږده چـې ښـکلي حسـن وشـيندي زکـات يـې ورکـړي
شـــېخه ارام کينـــه پـــردي ډول تـــه نـــور مـــه گـــډېږه

پرېـــږده چـــې مينـــه زلزلـــه راوړي توپـــان راولـــي
نـــور د صـــوفيانو منځـــه ځـــان باســـه نـــور مـــه دردېـــږه

پرېـــږده جنـــون کـــه مـــذهبي نـــه وي نيـــت مـــه کمـــوه
ذاهـــد ذاهـــد اوســـه ســـپين مخووتـــه مـــه مـــاتېږه

پرېـــږده پـــدې دنيـــا جنـــت ووينـــي ودې وينـــي
تـــه اصـــولي اوســـه کـــم اصـــلو تـــه نـــور مـــه ټيټېـــږه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګډې وډې

دلتـــه زمـــوږ کالـــه کـــې علـــم پـــه ځپېـــړو وهـــي
د ټوپک خـولې تـه مو نـران هـم پـه خـاپوړو راځـي

چپنـــدازان مـــو د ارګ خـــولې تـــه رســـېدلی نشـــي
ارګ تـــه دننـــه مـــو ســـپاره نـــن پـــه کربـــوړو راځـــي

پـــرون لـــه غـــږه مـــې دې غرونـــو تـــراره کولـــه
نـــن دلکشـــا تـــه تښـــتېدلي لـــه دې ســـوړو راځـــي

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يوالی

هـــره خـــوا ثنـــا كـــوي، مينـــه كـــې بـــلا كـــوي
ســـرې د پښـــتنو ســـترګې، خـــود بـــه واويـــلا كـــوي

يـو وارې كـه سـوز راغـی، زړونـه مـو پـه وينـو شـول
جـــوړ بـــه اصـــفهان نـــه وي، ويـــر بـــه بخـــارا كـــوي

اور بـه مـې لاهـور كـې وي، شـور بـه يـې ډهلـی اوري
دغـــه د هيـــرا زيږنـــد، اوس ســـتم پـــه مـــا كـــوي

راشـــئ ســـره وپيـــئ، يـــو تـــار كـــې لعلونـــه شـــئ
تـــوره د نفـــاق جذبـــه، هـــره خـــوا وبـــا كـــوي

مسـت شـئ سـره مينـه شـئ، اور پـه پوكـو مـه وژنـئ
تـــش د اصـــولي قلـــم ،چيغـــه د بابـــا كـــوي

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګډې وډې

ما ورکړی و، دې مات کړ
د وختونو ملکې ته
یو وړوکی لعل د مینې
هسې واچوه په ځمکه
تا به وې چې تش منګی دی
ترېنه پاتې یې کودي شول
دریغه، دریغه
دریغه، دریغه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هسې يو چا ته!

انگيــــزه مـــې وركـــه شـــوې د غـــزل وه
انديښـــــنه د ژوندانـــــه راســـــره مـــــل وه

يـــو ناڅاپـــه د خمـــارو ســـترگو ليـــد و
د قلـــم پـــه نيشـــه يـــي جذبـــه توليـــد و
شـــونډې نـــه وې، ســـرې پيـــالې د واينـــو ډکـــې
قـــدرت جـــوړې ، پـــه لاســـونو كـــې نـــازكې
مـــا وې خدايـــه ښـــاپيرۍ لـــه كومـــه راغلـــه
پـــه خنـــدا شـــوه چـــې خنـــدا مـــې تالـــه راغلـــه
مـــا وې ټولـــه تتـــه شـــوې مينـــه وركـــړم
دې وې، ورک شـه تـش پـدې كوځـه گـذر كـړم
تـــه پـــوهيږې انگيـــزه زمـــا د شـــعر يـــې
نـــور بـــه څـــه كـــړې چـــې د وروره راتـــه تېـــر ې

چـــې قـــدم پـــه ځمكـــه ږدمـــه رايـــاديږې
د هـــر تـــوري مـــې هـــم زور او هـــم مـــې زيـــر يـــې

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د رڼا مورکۍ تیاره شوه

شــــپو او ورځـــو کــــې رڼـــا وه
د رڼـــــا تیـــــره بریښـــــنا وه

چـــې ښایســـت یـــې زیږولـــی
پـــــه مانـــــاوو کـــــې مانـــــا وه

چـې پـه ژونـد کـې بـه تـورتم شـو
ســـپینه ورځ بـــه شـــوه دعـــا وه

یـــو ناڅاپـــه تـــورتم ګـــډ شـــو
شـــپه شـــوه ورځ تـــوره غوغـــا وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـــا یــــې اوښــــکې وچـــولې
پاکیــــــدې نـــــه واویـــــلا وه

د غـــوروې پـــه شـــان غـــم و
تـــرې بـــچ شـــوو هـــم ژړا وه

ښـــتن یـــو دی بـــې لـــه شـــکه
خـــــو بچـــــې تـــــه لا الا وه

مـــور د هیچـــا ښخـــه مـــه مـــره
کـــه مجنـــون وکـــه لـــیلا وه

یـــو مگـــس یـــې لولپـــه کـــړې
د انســـــان دا ښنگـــــه ســـــا وه

اصـــولي را یتـــیم مـــه کـــړې
دا دعـــا لویـــه لـــه تـــا وه

***

۱۳۹۱/۳/۱۷

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پنجوايي د شهيدانو په وير کې

څــوک مــې پــه تــور د پښــتانه ســوځوي
ځينــې مــې کــور کــې لــوی واړه ســوځوي

چــا راتــه هــر ايــت کــې اور راکــړی
حديث،حــديث کــې را ليمــه ســوځوي
دا د بـــر بنـــدو حرامـــوني چـــې دي
پـــه کـــور رانـــه وځـــي مـــړه ســـوځوي
زمـــا د پـــور واخيســـت ګـــډيږه راتـــه
وخـت بـه راځي چې ټول بـه سره سوځوي
افسوس،افســوس پــه اتفــاق نــه يــو مــوږ
پـه کـور مـې ورور بهـر مـې تـره سـوځوي
مشـــران چينـــو کـــې نتلـــي راتـــه
يـــواځې ارګ کـــې راتـــه زړه ســـوځوي
عجيبـه کــار دی چــې زمريــان يــو مــوږه
خــو نــن پــه غــولي مــو کارغــه ســوځوي

پيغلــې دســر ټيکــري پــر مــوږ اچــوي
چــې اصــولي ســړې اوبــه ســـوځوي

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# صحرا

هغـــه لانـــدې صـــحرا گـــوره پـــه هغـــه وچـــې مـــې کـــور دی
هــر بــورا يــې خــاورې شــوی هــر گــلاب بانــدې ســور اور دی

هـــر مـــلا فتـــوي د مـــرگ کـــا چـــې د ورور دی کـــافر شـــوی
هــر خــادم يــې جــلاد شــوی هــر قاضــي پــه زړگــي تــور دی

هـر زلمـي لاس کـې ټوپـک دی هـر صـوفي لاس کـې رسـۍ ده
هرماشــوم پــه خولــه کنځــا ده د ســپينگيري لاس کــې اور دی

هـــر عزيـــز يـــې مکنـــاټن دی يـــا خوشـــال دی اورنگزيـــب تـــه
بيـــا بابـــا دی پانيپـــت کـــې چـــې ليـــدلی ښـــه ورور دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هيليـــو ويـــالې وچـــې د مليـــار لاســـونه پـــرې دي
د ميـــرويس مـــزار ړنـــګ دی د بابـــا پـــه جنـــډو چـــور دی

د ملالـــې ټپـــې نشـــته د ايـــوب لښـــکرې ورکـــې
د احمـــد وږی خـــرڅ شـــوی د صـــابر لاســـوی ګـــور دی

بيـــا زمـــا پـــه پلازمېنـــه پيښـــور کـــې مهـــاجر يـــې
پنجـــاپی د نيکـــه شـــوی مشـــره دومـــره د غـــرور دی

شـــمله ور مـــې ټپـــې شـــوی پوهنتـــون مـــې وړکتـــون دی
اصـــولې مـــې بـــې اصـــوله اصـــوليت راتـــه تربـــور دی

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

زړه مــې راتــه وايــی چــې بــه تيــز بادونــه بيــا راشــي
تــويې بــه کــړي اوښــکې چــې پــرې تــور مخونــه بيــا راشــي

ســولې پربشــتې تــه بــه کفــن پــه غــاړه بيــا ورکــړي
جــوړ د خپــل اســمانه چــې پــه ســر تندرونــه بيــا راشــي

مســتې بــه د غــم ميرمنــې بيــا پــه چيغــو، چيغــو شــي
ســپينو لوپټــو کــې بــه دا ســره وختونــه بيــا راشــي

بيــا بــه خــو ويرنــې د غــزل قالــب کــې ووينــو
مينــې تــه يــې لــيکم خــو ويــرن شــعرونه بيــا راشــي

هــره خــوا چــې گــورم د وطــن مــور ليلامــې ويــنم
خدايــه تــه يــې ومنــه چــې ورک نيکونــه بيــا راشــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



یــو خــوا ســکندر دی پــه دا بلــه یــې مغــل ویــنم
مینــې رانــه اخلــي پښــواني دردونــه بیــا راشــي

هــره خــوا چــې ګــورم پــه درانــه خــوب بیــده شــویدي
ویښ د زمــانې تــه خــود بربنــډ خوبونــه بیــا راشــي

کلــه د وطــن نــاوې تــه مــوږ ټیکــری ورکــړی دی
کلــه یــې چــې واخلــو پــه جیبــو نوټونــه بیــا راشــي

تــورې بوړبــوکی مــو د پښــتون پــه کلیــو ولیــدې
کلــه چــې دا تیــرې شــي نــو تــور، تمونــه بیــا راشــي

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

کاشـــکې زه د بـــوډۍ ټـــال وای پـــاس پـــه غرونـــو ښـــکاریدلی
کاشـــکې زه پښـــتون پګـــړۍ وای پـــه دارونـــو ښـــکاریدلی

کاشـــکې تـــوره شـــپه دوزخ وای کاشـــکې اور وای مســـتیدلی
بیـــا د ښـــکلې شـــان رڼـــا وای پـــه خونـــدونو ښـــکاریدلی

یـــــا د علـــــم وای د کفـــــر بیـــــا د کفـــــر زلزلـــــه وای
بیـــــا دتـــــوره هـــــدیره وای پـــــه قبرونـــــو ښـــــکاریدلی

یـــا مریـــد د پیغمبـــر وای ښـــکلی تخـــت د ســـلیمان وای
بیـــا فریـــد وای احمـــدخان وای پـــه لکونـــو ښـــکاریدلی

خو چـې نـه وای پښـتنو کـې نـه مـې دیـن نـه مـې مـذهب وای
بـــس یـــو بـــوټی د صـــحرا وای پـــه رنګونـــو ښـــکاریدلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



يـــا د نـــر غونـــدې شـــاعر واى پـــه ربـــاب را تاويـــدلى
بيـــا تـــاريخ د پښـــتنو واى پـــه مرګونـــو ښـــكاريدلى

د هوسـى پـه شـان اصـيل واى د طـوطي پـه شـان ګويـا واى
اتفـــاق واى پښـــتنو كـــې پـــه بريتونـــو ښـــكاريدلى

هغـــه تخـــت واى هغـــه تـــوره هغـــه ننـــګ واى
بيـــا ډهلـــي كـــې احمدشـــا واى پـــه پوځونـــو ښـــكاريدلى

پـــه رښـــتيا كـــه يـــو افغـــان واى يـــا بربنـــډه افغـــاني واى
اصـــولي د دار پښـــتو بـــه پـــه دارونـــو ښـــكاريدلى

***

*ډهلى*
*۱۳,۰٤,۲۰۰٤*

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

نــه بــه د چـا شــونډې تــل تــر تلــه ښــکلول وي
نـــه بـــه د دوســـتۍ او د وروری هســـې پالـــل وي

نـــه بـــه د بابـــا د غـــرو ســـرونه وي پـــه واورو
نـــه بـــه د رزغيـــو اصـــولي ســـبا شـــدل وي

نــه بــه ژونــد د مينــې د مســکا د خنــدا کــور وي
نــه بــه د شــاعر تــل د پښــتو رنگــين غــزل وي

نــه بــه ملايــان پــه ميخــانو کــې دروېــزه کــړي
نـه بـه پـه دې ښـار کـې د نجيـب پـه دار کـول وي

نـه بـه افغانـانو کـې څـوک لـر وي څينـې بـر وي
نه بـه يـې ډېورنـډ نـه بـه پنجـاب نـه بـه ښـکنځل وي

نــه بــه اصــولي ښــکلي لنــدن کــې را مســکيږي
دا راســـره ومنـــه چـــې پـــاک اللـــه بـــه تـــل وي

***

*لندن- ۰۲.۰۳.۲۰۰۲*

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشـــــنا زمـــــا د بـــــڼ نيـــــالګي ټولـــــوي
پيغلـــــو څېړيـــــو نـــــه پرګـــــي ټولـــــوي

هغـــــه د دور پښـــــتنو جونـــــو نـــــه
ګرځـــي پـــه کليـــو کـــې ټيکـــري ټولـــوي

تقـــــدير زمـــــا د قـــــافلو لـــــه مخـــــې
راغـــــى پـــــه وچـــــه وچکـــــالي ټولـــــوي

اصـــولي ښـــار تـــه تـــور ســـړي راغلـــي
لـــه کونـــډو رنـــډو نـــه زګيـــروي ټولـــوي

***

۱۷,۰۵,۱۹۹۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشـــئ د وطـــن بچوخپـــل تبرونـــه وينـــې کـــړو
بيـــا بـــه اتڼونـــه کـــړو بيـــا بـــه کيســـې ســـپينې کـــړو

راشـــئ د قلـــم پـــه مـــټ خلکـــو تـــه بيـــا وښـــيو
جـــوړ تـــرې قلمونـــه کـــړو ټـــولې وســـلې مينـــې کـــړو

راشـــئ د بابـــا پـــه نـــوم بيـــا ولونـــه وتـــړو
دښـــتې او صـــحراوې مـــو ښـــکلې گلـــورينې کـــړو

دښـــتې مـــو کـــه وچـــې دي هيلـــې مـــو پرېمـــانې دي
عـــزم او جـــديت غـــواړي دښـــتې بـــه واورينـــې کـــړو

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ادماما

هسکو غرو ته يم راغلی نذرانو ته يم راغلی
ادماما زيارت کومه زيارتو ته يم راغلی

په تا غرونه راچاپېر دي ته بابا د دغو غرو يې
ته يو پير يې د پيرانو پاکو زړو ته يم راغلی

ستا مزار په هسکه وينم ته سردار د سردرو يې
ته کوربه د ميلمنو يې ستا ميلو ته يم راغلی

ستا په خوا کې شپونکي وينم آوازونه د شپېلۍ دي
نښترونه ورته زانګي ولولو ته يم راغلی

په جوس دې تڼي مېشت دي غيرتي دي مېړني دي
توريالي دي ميړني دي پښتنو ته يم راغلی

***

۰۵, ۰۸, ۲۰۰٤

تڼي ادماما

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زمانه

د سفر په لاره مست يم
لکه مست چې سمندر شي

حال مې تور ديو شي خنديږي
بيا مجنون يا قلندر شي

کله پوی وم عقل هېر شي
کله هېڅ په هېڅ هنر شي

کله ورځ وي تروږمې راشي
کله شپه وي ځلاند لمر شي

کله ښه وي لا ښه کيږي
کله بد وي لا بدتر شي

کله زر په ايرو واوړي
کله کاڼی وي سره زر شي

کله ښه کوم چې ښه دي
کله ښه وي واوړي شر شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساز کې سوز او سرور نه وي
چې غني راشي ټکر شي

سره خوله ښکلي هلکان وي
په ځواني واوړي ببر شي

پاچاهان وي پاچاهي کا
پر سبا پرېوځي بزګر شي

خدای چې قهر ورته وکړي
میږی هغه وخت وزر شي

جوړ ځان هله مالومیږي
چې مرض پرې مقرر شي

مینه هلته لا خوږه شي
کسي، کسي چې ټکر شي

خود به سترګې شي بې باکه
چې په شونډو یې نظر شي

دا اشنا به په هو راشي
زما دا کله باور شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـــې د صـــبر روزي وخـــوري
کـــاڼي بـــوټي بـــه ســـره زر شـــي

چـــې پـــه کومـــه کـــوچې راشـــي
هغـــه ځمکـــه يـــې مـــالګر شـــي

تـــولې ښـــکلې مـــې خوښـــيږي
ځمکـــه ســـتوري دې خبـــر شـــي

يـــوه دنيـــا مينـــه دې راکـــړي
پريـــږده هلـــه دې ســـحر شـــي

کلـــه نرمـــې نرمـــې شـــپې وي
بيـــا شـــډل شـــډل شـــي غـــر شـــی

اصـــولي لـــه کرکـــې تښـــتي
خـــدای ګـــو مينـــه کـــې رهبـــر شـــي

***

هرات

۲۰۱۴/۰۵/۳۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژوند

ژونـــد د وینـــو تویـــول دي
د یـــخ لمـــر تـــه ایښـــودل دي

ســـر تـــر ســـره لـــوبې لـــوبې
ســـاه قفـــس کـــې بنـــدول دي

د نـــانځکو ښـــکلي ښـــار کـــې
ماشـــومانو تېـــر ایســـتل دي

یـــوه مســـکا ټـــولې ژړاوې
پـــه وعـــدو میینېـــدل دي

***

*کابل پوهنتون/ پښتو څانګه*

*۱۳۸۶/۳/۲۷*

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لنډ ژوندليک

جمال ناصر اصولي د نوروز خان اصولي زوی په ۱۳۵۹ل کال د خوست ولايت تڼيو ولسوالۍ دره ګي کلي کې زېږېدلی دی.
ښوونځی يې د کابل په عبدالهادي داوي لېسه او فراغت يې د خوست غرغښت عالي ليسې څخه دی.
ليسانس يې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي پښتو څانګه کې کړی او له همدې ځايه يې د ماسترۍ سند هم تر لاسه کړی دی.
ښاغلي اصولي په خصوصي او دولتي ارګانونو کې په لوړو بستونو کار کړی دی، د نوې ځوانۍ پېر يې په روسيه او انګلستان کې تېر کړی او د نړۍ اته دېرش هېوادونو ته يې سفرونه کړي دي.
د شاعرۍ تر څنګ ليکوالي او سياسي شننې هم کاندي چې ډېر کله د هېواد په ټلوېزيونونو کې د هېواد په سياسي حالاتو د شنونکي په توګه را څرګندېږي...
تر دې کتاب وړاندې د ښاغلي اصولي دوه نور اثار هم د چاپ په پساله پسولل شوي چې يو يې (**سياسي جګړې**) د ښاغلي اصولي مرکې او شننې دي او بله يې لومړۍ شعري ټولګه ده چې (**د پردېسۍ ترورمې**) نومېږي او دويمه شعري ټولګه (**درد**) يې دادی ستاسې په لاسونو کې ده.
اصولي صيب ته د ليکوالۍ، شاعرۍ او وطن ته د خدمت په ډګر کې د زښتو ډېرو برياوو دعا غواړی يم.

درنښت مو په برخه شه
سپين سهار
دانش خپرنځی - کابل

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**